مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدخالص ادیب ۲۰۲۴/۰۲/۰۹

# پرونی جنازه

## (لنډه کیسه)

چا به تر اوبو اپستلي وه؛ خو اسمان خپه ښکارېده، وریځو اوښکي تویوي، باد د غم سندرې غږوي، په ګټ کې په عمر پخه ښځه پرته وه، په اننګو يې خپه خپه بانه پراته و. د ۱۳۹۸ ل کال د لیندۍ اوله نېټه وه، موږ ټول ددغه مرګ په علت پوهېدو؛ خو له خجالته مو پر یو بل ځان نه پوهولو.

***

پرستارې يې پر ګنډه قيچي کېښوده، ريزه ګل د درد احساس وکړ، يو دم يې په شونډو ترخه موسکا وغوړېده، پرستارې زړه نا زړه بتې ګوتې ته زور وکړ، پرتوګ يې پرې شو، شېبه وروسته يې د واړه ماشوم ژړا په اتاق کې انګازه وکړه، د پرستارې سپين دسکش په وينو سره شول، ماشوم يې راواخيست، ريزه ګل ورخطا ورخطا سترګې ورپسې ور واړولې، يو دم په ځای کې راپورته شوه؛ خو پرستارې پټکه پرې وکړه، د هغې په شونډو د عاجزۍ او شرم خپې خورې شوې، بېرته په چپرکټ پرېوه ته.

بېرون په دهليز کې رنځپوهانو له يو بل سره مشوره کوله چې ماشوم چاته ورکړي؛ ځکه مور يې ليونۍ وه، پلار يې مالوم نه و. که چېرې ماشوم له خپلې مور سره پرېږدو، د ښار په کوڅو کې به يې يخ و نه وهي؟ پر همدې فکرونو کې وم، ماشوم ته مې چورت نيولی و، په ذهن کې مې پوښتنې يوه پر بله پسې راټوکېده:

- دا ماشوم ولې پلار نه لري؟ چا له دغه ښځې سره کورواله کړې؟ په دغه ښار کې د کوم دين او مذهب پلويان دي؟ ايا دوی خپلې عقيدې ته ژمن دي؟ دولت دې دا ډول ماشومانو لپاره خوندي ځايونه لري؟ مور ته به دې ماشوم بېلوالی څومره سخته وي؟

سترګې مې له اوښکو راډکې شوې، د لاسونو څټونه مې سترګو ته ونيول، سلګيو پسې واخيستم، شېبه وروسته مې د سترګو سپين سرو ونيول، په ذهن کې مې د راټوکېدلو پوښتنو د ځواب په لټه کې وم چې يو دم د دروازې غنګ شو، پورته شوم، مخامخ دروازه مې له نظره تېره کړه، چې پرستارې په ناروغې بيا پټکه وکړه:

- غلې! ناولې، ټول ځايونه د مردار کړل دې مړې سترګې ور واړولې، پر خپل ځای ودرېده، يو قدم نه مخته او نه شاته تله، هېڅ يې نه ويل، د ماشوم په اړه خبرې مې تر غوږ شوې، د ماشوم اړوند خبرې مې تر غوږ کېدې، دهليز ته راووتم:

- هو ډېر ښه ماشوم دی، مور يې ليونۍ ده، څوک نه لري، که راځې؟ دوه نيم لکه درسره راوړه چې درته و يې سپارو، کنه ډېرو کسانو رانه غوښتی پر دېوال راځوړند تابلو مې توجو جلب کړه، مور ماشوم په غېږ کې نيولی و، ماشوم يې د مور د تي له څوکه شونډې حلقه کړې وې، دې يو لاس ترې لاندې بل يې د ماشوم پر سينه ايښی و، همداسې په دهليز کې څو قدمه وړاندې ولاړم، څو نورې تابلوګانې مې له نظره تېرې کړې، له جيب مې موبايل راواېست، ساعت مې له نظره تېر کړ، بېرته مې جيب ته کړ، اتاق ته ولاړم، ساپې مې راواخيسته، د ميزونو په پاکولو مې پيل وکړ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

***

– پرونۍ جنازه دې چا وه؟

راغبرګه یې کړه:

- د لیونۍ ټکرۍ یې په سر راکش کړ، ورو یې شونډوې بوڅې کړې:

- تقریباً د ښار ټولو ځوانانو به پرې جنسي تېرى کړی و، دوه ځله یې مخکې هم اولاد پیدا شوی و، دې به بېرون د سړکونو پر غاړه شپې ورځې سبا کولې، تېر ځل خو د حوزې پولیسو هم په غرفه ننه ابستلې وه، چاته چې زمینه مساعده شوې ده پر هیله یې نه ده کړې،

ریموټ ته مې ګوتې ور اوږدې کړې، پر له پسې مې چینلونه اړول، چې یوه ویاند وویل:

- په تخار ولایت کې یې خاوند له خپلې مېرمن پزه پرې کړې ده، دا په داسې حال کې ده چې لړ کال په هېواد کې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالي کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی ببړته مې ریموټ کېښود، دې لا هم د تلویزیون په پرده کې سترګې ګنډلې وې وروسته یې وویل:

- دا څه حال دی

ځواب مې ورنه کړ، ښه شېبه غلی وم،وروسته مې ځان خبرو ته راجوړ کړ:

- هو کیسې خرابې دي، کلیوال مو و، پلار ته به یې خلکو ویل، ورکه څه یې کوې چې واده ورته کړې، د خلکو د لور او خور له ژوند سره لوبې مه کوه، واده یې ورته و نه کړ، خو له هماغه ورځې تر ننه پورې مېږې او بزې پرې پیایي، ټول کلی پرې خبر دی چې یوه مېږه او بزه هم ترې پاتې شوې نه ده
ژبه مې راویسته، د چایو پیاله مې بیا پورته کړه، له څنګ سره مې په پراته اخبار کې سترګې وګنډلې.

***

پوښتنه مې ترې وکړه:
- څومره وخت کېږي چې دلته مو دنده ده!؟
شېبه وروسته یې ځواب ته ځان راجوړ کړ:
- دا مې دولسم کال دی
ورو مې ورته وویل:
- سخته مو خپه کړم
راته یې وویل:
- دلته هر وخت تر دې زړه بوږنوونکې کیسې لیدلی شې، دا موږ یو چې زړونه مو ورته کلک کړي، هېڅ نه وایو، یوازې په پټو اوښکو د هر ډول پېښو مشاهده کړو، بس د غم ټغر مو له هر کس سره غوړولي وي، خدای دې زموږ پر هېواد خپله رحم وکړي، دا زموږ د ژوند د ځینو برخه کیسه وه، ډېرې خبرې شته چې اورېدل یې ورځې غواړي
د خدای پامانۍ په اندازه مې لاس ورته پورته کړ، پرستاره پر خپل ځای ودرېده، لاس یې پر سینه کېښود، په شونډو یې موسکا خوره کړه، له تعمیر راووتم، له څنګ سره مې دوو کسانو په خبرو کې زیاته کړه:
- پنځه کسه یې د غمنو ترېشل ته ژوندي وراچولي
په ذهن کې مې له ترېشل څخه د انسان د وینو بادېدل او غوښې لکه د غنم د دانو تویېدل اوښتل را اوښتل، دوی مې تر سترګو پنا شول، لمر پر مخامخ غره زنه لګولې وه، په اوښلنه سترګې یې د طبیعت ننداره کاوه.

(پای)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ